# د افغانستـــان اقتصـــادي پـــرمختګ

## خبرپاڼه

درېیم کال - ۱٦مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۸مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۵/۱




په افغانســتان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېـږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختـــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د عزیزي انرژۍ د برېښنا پروژې؛ د انرژۍ پر ځان بسیاینې او اقتصادي ودې له پاره مهم ګام

۲- د لمریزې برېښنا پراختیا؛ د انرژۍ د ځان بسیاینې او پانګونې له پاره نوی فرصت

# د عزیزي انرژۍ د برېښنا پروژې؛ د انرژۍ پر ځان بسیاینې او اقتصادي ودې له پاره مهم ګام



په افغانستان کې د برېښنا د کورني تولید د زیاتوالي په موخه د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید پروګرام نوي پړاو ته داخل شوی دی. د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په مشرۍ د اړوندو امارتي ادارو او د شرکت ترمنځ وروستۍ غونډه، چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، په کې د برېښنا د تولید، لېږد او وېش په څو مهمو پروژو کې د پام وړ تخنیکي او عملي پرمختګونه شریک شول، چې تمه ده د هېواد پر اقتصادي ودې او صنعتي پراختیا مثبت اغېز ولري.

د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت عمومي رییس ښاغلي میرویس عزیزي، چې په غونډه کې موجود و، د ریاست الوزار اقتصادي مرستیال ته وویل چې د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید له پاره ټول اړین تخنیکي تجهیزات پېرل شوي او ډېر ژر به افغانستان ته ولېږدول شي. د دغو تجهیزاتو برابرېدل د پروژې د عملي پلي کېدو له پاره ډېر مهم دي.

غونډې ته تخنیکي کمېټې په خپل راپور کې وویل، د کابل ولایت په نغلو، د پروان ولایت په باریک اب او د غزني ولایت د لمریزې برېښنا درې پروژې، چې تولیز ظرفیت یې ۳۳۱ مېګاواټه دی، د امکان سنجۍ له پړاو څخه تېرې شوې، د برېښنا د پېر ترونونه یې لاسلیک شوي او په ساحو کې یې عملي چارې پیل شوې دي. دا پروژې به د پاکې انرژۍ د تولید ترڅنګ د برېښنا د وارداتو پر کمېدو او د کورني تولید پر زیاتوالي مستقیم اغېز ولري.

په تخار او بغلان ولایتونو کې د ۵۱۵ مېګاواټه برېښنا تولیدي پروژې هم د تخنیکي ارزونې په وروستي پړاو کې دي.

همدارازد نغلو او غزني د سب سټېشنونو جوړول او د کابل له تره خېل سیمې څخه تر صنایع سبز پورې د انتقالي لین غځول د برېښنا د ملي شبکې د پیاوړتیا مهمې برخې بلل کېږي، ځکه د تولید شوې برېښنا لېږد او وېش د همدې زیربناوو له بشپړېدو سره تړاو لري.

افغانستان هرکال د خپلې اړتیا یوه لویه برخه برېښنا له ګاونډیو هېوادونو واردوي او د دې له پاره میلیونه ډالر لګوي. د دغو پروژو عملي کېدل به د وارداتي برېښنا کچه راکمه کړي، د بهرنیو اسعارو د وتلو کچه به راټیټه کړي، د صنعتي فابریکو او تولیدي سکټور له پاره به د برېښنا تامین دوامداره کړي او د کورنیو او بهرنیو پانګونو له پاره به مناسب چاپېریال رامنځته کړي. د برېښنا د تولید زیاتوالی به د کارموندنې، اقتصادي فعالیتونو او د هېواد د انرژۍ پر ځان بسیاینې کې هم مهم رول ولوبوي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پروژو د چټک عملي کېدو پر اړتیا ټینګار وکړ، اړوندو ادارو ته یې د پاتې چارو د بشپړولو لارښوونه وکړه او عزیزي انرژۍ شرکت ته یې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ، څو یادې پروژې په ټاکلي وخت بشپړې او د هېواد د اقتصادي ودې له پاره ګټورې تمامې شي.

# د لمریزې برېښنا پراختیا؛ د انرژۍ د ځان بسیاینې او پانګونې له پاره نوی فرصت

د افغانستان اسلامي امارت د انرژۍ په سکټورکې د کورني تولید د زیاتوالي او د وارداتي برېښنا د اړتیا د کمولو په موخه د خصوصي پانګونې د جذب بهیر چټک کړی دی. د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې په وروستۍ غونډه کې په شپږو ولایتونو (ارزګان، دایکندي، غور، زابل، پکتیکا او فراه) کې د لمریزې برېښنا د تولید له پاره د خصوصي سکټورله لوري وړاندې شوې طرحې وڅېړل شوې، چې د هېواد د انرژۍ د پراختیا په برخه کې د پانګوالو د لېوالتیا څرګندونه کوي.

د لمریزې برېښنا د دغو پروژو ارزونه په داسې مهال ترسره کېږي چې په هېواد کې د برېښنا د تولید د زیاتوالي له پاره د پانګونې زمینه برابره شوې ده. د عزیزي انرژۍ پانګونې شرکت هم د لس زره مېګاواټه برېښنا د تولید له پاره د پراخې پانګونې پروګرام پیل کړی او د یادې پروژې له پاره یې اړین تخنیکي تجهیزات پېرلي دي. د انرژۍ په برخه کې د دې ډول سترو پروژو ترڅنګ د کوچنیو او متوسطو لمریزو پروژو پراختیا کولی شي د برېښنا تولیدي سرچینې متنوعې او د هېواد د انرژۍ شبکه پیاوړې کړي.

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې پرېکړه کړې چې د افغانستان برېښنا شرکت دې د شپږو ولایتونو د لمریزې برېښنا طرحه په تخنیکي او اقتصادي ډول له اړوند شرکت سره وڅېړي او خپل راپور دې وړاندې کړي.

د انرژۍ په برخه کې د خصوصي پانګونې پراختیا د هېواد اقتصاد ته ډېرې ګټې لري. د کورنۍ برېښنا د تولید زیاتوالی به د وارداتي برېښنا اړتیا راکمه کړي او له هېواده د بهرنیو اسعارو وتلو کچه به راټیټه کړي او د صنعتي پراختیا سره به په هېواد کې ګڼ کاري فرصتونه رامنځته کړي.

د لمریزې برېښنا د نویو پروژو ارزونه او د عزیزي انرژۍ د لویې پانګونې پروګرام د هېواد د انرژۍ سکټور د بدلون څرګندې نښې دي. د دغو پروژو عملي کېدل به د افغانستان د انرژۍ پر ځان بسیاینې، اقتصادي فعالیتونو پراختیا او د پانګونې د جلب له پاره مهم بنسټ رامنځته کړي.

